دمقالی لیکونکی: روبرت پري (Robert Parry).
منبع او دخپریدلو نیټه : انفرمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۶-۱۱-۱۶) .
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل»

---

# ددونالد ترومپ دسترولي د کمزوری
# د چانس داحتمال موجودیت

## Trump’s Slim Chance for Greatness

**ځانګړی راپور : ددونالد ترومپ د باند نی سیا ست بریالیتوب په هغه صورت کی چي دواشنګټن نوی محافظه کارانو ته د لاس وهنی فرصت ورکړی ډیر لیری ښکاري اما هغه یعنی ترومپ کولای شی چي د خپل بریالیتوب د پاره په حسا سو مقا ما تو کی تازه فکر پوه خا وندان په کا ر وګماري..... رابرت پیري**

انفارمیشن کلیرنګ هوز 16-11-2016: د شرکتونو اویا د پانګوالو مجموعی

خبری آژانس : دونالد ترومپ له هر څه نه مخکی زر با ید پریکړه وکړي اوهغه داچي آیا هغه غواړي چی دامریکي دمتحده ایالاتویوستر اوپیاوړی اولسمشر اووسي اویا داچي دیو روبو(Robo) یا بیکاره لاس لیک کونکی ماشین په څیرخپل نوم د جمهوریخواها نو دکنګری دهریوقانون په پای کی ولګوی اویا درج کړی اود یوله خپل ځا نه راضي اودیو بی خبرر هبرپه بنه دخپل سر په ښورولو سره د محافظه کارانو دبهرنی ماجراجویی اوبی بند وبا ر سیاستونوته ځان ور سپا ری یا هغوی ته تسلیم شي یا داچي دونالد ترومپ غواړی چي د ښځینه سپی دځوی پاول رايي (Paul Ryan’s) په څیر چیری په هیواد کی کورني پا لیسی پلی کړی اویا داچي ترومپ غواړي چی دامریکي د متحده ایالاتو با ند ني سیاست دواشنګټن د زیرکو ماجراجو محافظه کارانوته ور خوشي کړی دا هغه څه دی چي پخپله د دونالد ترومپ پریکړی پوری اړه لری .

ددونالد ترومپ اصلی ستونزه دادی چی هغه څنګه کولای شی چي ځني مخکی تللی بشپړ نظریات دخپل زمامداری په موده کی پکار واچوی سره له هغه کوم چی دهغه ډ یر نژدی پلویان ددی انتظار نه لرل چي دونالد دولتی واک به ترلاسه کړی اودهغه په څنګ کی په تیرو څو لسیزو کی نوی محا فظه کاران او دهغو سره په اړخ کی خرڅ شوی لیبرالانو ځنی کارپوه اومخالف متخصصین کوم چی یو وخت له ډیرو مشهورو اوسرشنا سو څیرو څخه شمیرل کیدل دهمدغه دلو تپلو په واسط حاشیی ته ورتیل وهل شوی وه.

نو په دی اسا س هغه د تایید وړ د کارپوهانو سیا ست کوم چی د نوی محافظه کارانواودمحا فظه کارانوپه اړخ کي دراپیرود ل شوی لیبرالانودسیا ست سره په ټکرکي داهڅونی ته لاره پرانځی چي ښاغلی ترومپ با ید د ملی امنیت د پاره داسی نوی تازه دم کارپوه ماهرانو په لټه کي اووسی چی محافظه کا ر اودهغو سره په اړخ کی لیبرالانو ته ما تی ورکړی اود دی مقصد د پلی کولو د پا ره یعنی دواقع بین کارپوها نود میند لو په لاره کی با ید چی ښاغلی ترومپ ځنی خطری هم ومني.

**د سیالانو تیم (Team of Rivals)** : که چیري ښاغلی ترومپ په همغه لاره لاړ شي کوم چي اوباما په انتقا لی دوره یعنی په کال (۲۰۰۸) کي د یوسیال یا رقیب ګروپ د نظریا تو په د لباختګی سره لاره خپله کړ اوپه همغه لاره لاړ نوکه دونالد ترومپ هم همدغسی وکړي نو داوباما په څیر به غټ غلطی اواشتباه وکړی او هغه داچي اوباما دجمهور ریس بوش ددفاع وزیر ښاغلی رابرت ګیتس(Robert Geats) یی پخپل مقام کي وساتل او هیلاری کلنتون یی دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنی وزیر په صفت وټاکل او ځنی ستر جنرالان لکه دوید پطریوس(David Paetreus) یی له دندي څخه ګوښه نکړ .

د یا دونی بل مهم مطلب داچی ښاغلی «بارک اوباما» په سیا ست کی د نا بلد تیا او د نه مها رت په لرلوسره دهغه غټه اشتباه او غلطي دا وه چي هغه د **بوش** ددوامدار جګړي اودهغه پوری په یولړ اړیني پا لیسیو پوری ځا ن ښکیل کړ ، په اړینو پالیسو کي یوهم دهیواد په د ننه کی دداخلی جا سوسی موضوع څخه یادونه کیږي اوهغه داچي «اوباما» باید خپل ورکړل شوی وعدی ترسره کړای وای او خپل ټا کلی اهدافو ته رسیدلای وایی هغه په سیا ست کی دخپل بی تجربګی په لرلو سره دخپل اداری په د ننه کی د یوشمیر سیا لانو اودرقبیا نو په لومه کي بند شو اوهغه د یوشد ید (ضد شورش) ناروغ په بنه داسی د جګړی سیا ست غوره کړ چي دهغه په ترڅ په افغانستان کی په کال(۲۰۰۹)کی تقریباً (۱۰۰۰) امریکا یی سرتیری اود هغه په اړخ کی بی شمیره افغا نا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل .

پلورل شوی هیلاری کلنتون په کال (۲۰۰۹) کی د هندوراس مترقي اوانتخابی جمهور ریس (مانویل زلانها=Manuel Zelaya) دیو کودتا په ترسره کولو سره له واکه رانسکور کړ چي داپخپله لاتینی امریکی ته یوه د ګواښ سګنا ل وه که څه هم چي (El Norte) چندان زیات تغیراتو سره مخامخ نشو .

دیاده باید ونه باسو اوهغه داچي هیلاری کلنتون په کال (۲۰۱۰) کی د« بارک اوباما» لمړنی هڅی کوم چی اوباما دبرازیل دجمهورریس **لویز اناسیو لولا دی سیلبا** ( Lula Inacio Lula de Silva) اود ترکیی دلمړی وزیر ښا غلی **رجب طیف اردوغا ن** څخه مرسته وغوښتل چی هغوي دواړه د مینځګړي په بنه دایران سره د هستوی برنا می په

محدود لوسره کار پیل کړی دهغو دغه معا مله شنډ اوسبوتاژ کړ اود تند لارو اسرایلیانو سره په ګډه وغوښتل چې دایران سره د مخالفت او د تنش تنور لا پسي ګرم وسا تی .

هیلاری کلنتون اودهغه سره نورګډ ټپوسا نو په دی بریالی شول چي د «اوباما» اراده اوعزم شنډ کړی اوهغه داچي ښاغلي ګیټس (Geats) دخپل وظیفوی خاطراتو په دفتر پانه کی داسي لیکلي وه :ګیټس او کلنتون په غیر مقایسوی (Unfireable) بنی سره هر وخت کولای شي چي «اوباما» ننګونو یا ستونزو سره مخامخ کړی کوم چي که چیری هغه یعنی «اوباما» وغواړی چي هغوی څندی ته ور تیل ووهی اوهغه به اوباما ته ډیر ګران تمام شی .

د«اوباما» داداری په دننه کی یوشمیر هوښیا ر لوبغاړي لکه (ګیټس – هیلاری کلنتون او جنرال پطریوس) په دي پوهیدل چي هغوی څرنګه کولای شی چي (اوباما) دخپل سیاسیی نسخو د انطباق څخه ګوښه کړی او پرینیږدی چی اوباما خپل سیا سیی نسخي تطبیق کړی نو دغه لوبغاړی له هر څه نه مخکی د اسي چلند خپل کړل چي (اوباما) دخپل رسنی (مید یا) ملګرو سره مخا مخ کړ اوهغه داچي دبارک اوباما په اړین رسوا شوی اطلاعات په نشر ورسوی اوداسی توضیح ورکړی چي اوباما څنګه دستونزو یو ه جنګی دوله روش سره مرستي نه کوی اوپه دی شا ن هغه کمزوری کړي .

## د«اوباما»ریښتیني کمزورتیا(Obama's real weakness):اوس تولو

ته داسی څرګند شوی اوهغه داچي ښاغلی «اوباما» دا مریکی د متحده ایالاتو د نوی محافظه کارانو (نیوکان ) اودهغو سره د لیبرال ټپوسانو تر درونډ فشار لاندی په پریوتو سره حتی نشی کړلی چي دخپل خارجي سیاست څخه څارنه وکړی او دګیټس ، هیلاری کلنتون او دجنرال پطریوس پر روانو کړونو باندی پام نشي اړولی هغه لا څه چي ښاغلی اوباما لا تراوسه دواشنګتن د محافظه کا رانو د غضب اود هغو څخه د ډار په لړلو سره هڅه کوی چي داسرایل لمړی وزیر نتان یاهو غوښتنی اودهغه سیا ست ته ځانګړی توجه وکړی اویا دهغه د رنا وی پرخاي کړي . هغه څه چي د نوی محافظه کارانو اودهغوسره دلیبرال ټپوسا نو کلک غوښتنه دي .

دیاده با ید ونه باسو اوهغه داچي شاغلي «اوباما» د اسرایل په اړین له ډیر وخته راهیسی د یوڅه تشوش اونګرانی په لړلوسره په واسواس کی و لوید لي وه نو هغه دخپل واسواس دلیری کولو د پا ره د خپل زما مداری اود قد رت په اوج او د کا ل (2012)کی دامریکی دمتحده ایالاتو دجمهوری ریاست په ټول ټاکنو کی د دوهم ځل د بری دترلاسه کولو څخه وروسته داسراٍیل د لمړي وزیر ښاغلي **نتانیاهو** دلید لو دپاره هغه هیواد ته دڅو ورځنی سفر په لړ کی دخپل مینی د ښودلو د پاره ددارسجدی ترسره کړ اوپه ورته شان سره د سعودی واکمنا نو دلید لو د پاره سعودی عربستان ته هم سفروکړ.

سره له هغه چي ښاغلي «اوباما» اسرایل او سعودی عربستان ته دهغو هیوادونو

دسرمشری درضا یت دلاسته راوړلو د پاره دحسن نیت سفرونه تر سره کړ اما له هغه ځا یه څخه چې اوباما په کال (۲۰۱۴) کی دایران سره دهستوی توافق د لاس لیک په کولو سره بیا له سره داسرایل اود سعودی عرب د واکما نو قهر او غضب را وپارول لکه هغسی چې ناتانیاهو په کال (۲۰۱۵) کی د جمهوریخواها نو په بلنه سره امریکی ته سفر وکړ او دکنګرس په یوه مشترکه غونډه کی د ښاغلی اوباما په ادرس باندی له تحقیر او له توهین څخه ډکه وینا تر سره کړ اود امریکی دمتحده ایالاتو دقانونګذارانو څخه په کلکه وغوښتنل چی د خپل جمهور ریس څخه سلب صلاحیت وکړي .

له بلې خوا څخه د سعودي عربستا ن چارواکي له ښاغلی «اوباما» څخه د اسحلو دخرڅلاو اوپه سوریه کي دهغه هیواد له نیابتی جګړی اوپه یمن کی دسعودی عربستان د مستقیم بمباریو د ملاتړ امتیا ز اومجوزغواړی ، اوپه عین زمان کی د سعودی عربستا ن دوها بی دواړه فرقي اوځانګي دشعیه پوري دتړلي رژیمونو انقراض او بربا دی غواړي ( د شیعه اود سني نښته لکه د اومي پیړي په بڼه).

له بلي خواڅخه ریښتنی خوخبره دادي چي سعودی چا رواکي داسرایل سره دیوڅه رسمی پیژندګلوی او ددواړو هیوادونو د داتحاد څخه مفهوم دادي چي سعودی عربستان غواړی چې ددی اتحاد په رڼا کی دشیعه ګانوپه اصطلاح(هلال) لکه په لبنان کی دحزب الله اوپه سوریه کي بشار الاسد او دایران په دننه کي وپوښوی یا دغه نوموړي برخي ترخپل سخت ورانونکی ګذار لاندی راوړی لکه هغسی کوم چي دامریکي متحده ایالات په کال ( ۱۹۹۰) کی خپل پالیسی په مینځنی ختیځ کی پلي کړ.

نو دیورتنیو یادونو په لړ کي که چیری دامریکی دمتحده ایالاتو نوی منتخب جمهور ریس ښاغلي **دونالد ترومپ** غواړي چي دهغه ذهن داوباما په څیر د اسرایل اود سعو دی عربستان دچاروا کو اودجګړه مارو پواسطه سره خړپړ نشی نو هغه ته لازم دی چی په مینځنی ختیځ کی دبیهود ه جګړی لمن را ټول کړی اودامریکي دمتحده ایالاتو د زرونو ملیاردو دالرو د بی ځا یه لګښت مخه ونیسی اونور د سعودی عربستان اود اسرایل د چاروا کی دملاتړڅخه لاس پرسر شي اودهغوی په لومه کي ځان بند نکړي لکه چی دهغه دوینا و څخه داسی څرګند یږی چي **ترومپ** نه غواړی چي لکه د «**اوباما** » په څیر خپل وقا ر سعودی عربستان اواسرایل ته را ټیټ کړي .

دلته دکارپو هانو له نظره داسي توضیح کیږي چي داسرایل سره ( دامریکی دمتحده ایالاتو دتبلیغاتي فوق العاده دستګاه او لابی ) دسعودي عربستان (دهغه هیواد بی څاری مالی توان) کلک اوپیاوړي ایتلاف دهغواړیني تصوراودشجاعت ته ضرورت لیدل کیږي کوم چي دغه تصور او شجاعت به هیڅکله امکان ونه لری چي د هغوي په واک کي ولویږي که چیری **دونالد ترومپ** دخپل پښی غټه ګوته داسرایل د لمړی وزیر **نتانیاهو** اودسعودی عربستان دپاچا **سلمان** د پیاوړي مشاورینو له فشار او منګلو څخه خلاصه کړي .

په هرصورت دا به زما ن موږ ته را وښیي چي ښاغلي ترومپ په واقعی بڼی سره یوربینتینی لوبغاړي دی اویا داچی یوازی دیو مدعي په صفت سره وروسته له تولټیا کنو اوبری څخه غواړي چي خپل دبا ند نی سیا ست تیم وټاکي اویا خلکو ته معرفی کړي ، آیا هغه یعني ښاغلي ترومپ د هغو نوی متفکرینو اودعلم دخا وندانو دمیند لو په لټه کي دی کوم چي هغوی وشی کړلی چي په مینځني ختیځ کی دجګړه مارو د ځنځیرونو کړي را ماتي کړی دروسیی سره د دښمنی اود اختلا فاتو کچه را ټیټه کړی اویا داچی په نمونوی ډول سره ځني مشکوک سنتی جمهوریخواهانو ته د لوبی د ترسره کولو چا نس را برابروی اویا هغوی ته لاره اواروي داهغه څه دی چي زمان به موږ ته را وښیي ؟

**دلمروړانګي په جبهه زارکي(Sunlight on the Swamp):** اوس باید په ډاګه شي اوهغه داچي ښاغلی **دونالډ ترومپ** د امریکی د متحده ایالاتو نوی منتخب رییس با ید وکولي شي چي خپل استقلالیت دهغو زیرکو سنتی جمهوریخواها نو څخه چي له ډېرو پخوا وختونو څخه راهیسي ځانونه ددولت په دننه کي پټ کړي دي دهغوله نفوذ اومنګلو څخه ترلاسه کړي اوخپل ځان له یولړ ابهاا مو څخه را وبا سي یعنی دهغه ډول مکد ر او یا خړپړ پالیسي څخه کوم چي د **رونالد ریګن** ، **جنرالد فورد** او د **جیمی کا رتر** دزمامد اریي په وخت کي بی له کوم ځا رني اوکنترول څخه په مخه وړل کيد ل .

اوس ښاغلی دونالد ترومپ دخپل مخکینی انتخاباتی مبارزي دوعدی سره داسی وایي اویا داچي غواړي چي دغه د واشنګټن جبهه زار (با تلاق) خا لی او تش کړي نو ددی جبهه زار د تشولو اود وچولو د پاره د لمر ځلا نده وړانګي ته ضرورت لري او هغه داچي دغه ګرمي دامریکي د متحده ایالاتو د خلکو دونډی په اخیستلو سره ترلاسه کیږي ځکه چي دخلکو سره زیا ت اطلاعات او رازونه موجود دي چي با ید ښاغلی دونالد ترومپ له هغه اطلاعا تواورازونو څخه خلکو سره په نژدیوالی کي تر لاسه کړی تر څو چي په روانه اوضاعو با ندي پوره لاس رسي تر لاسه کړي .

نو ددی کار د پیلولو او دآغاز د پاره کوم چي دخلکو باور دځانه کړي لازم بریښیي چي لکه د ډارن (اوباما) په څیردخطرونو دراپیداکیدو څخه په ډارکي ځان مخا مخ نکړي اوهڅه دي وکړي چي هغه د ملي امنیت پخوا ني افشا کونکي ما مورین کوم چي اوس تر قا نوني څارنی او تعقیب لاندي لکه (**چلسیا ماننګ** «Chelsea Manning» **جولین اسانګ** «Julian assange» ، **جان کیریاکو** «John Kiriakou» **جیفری سترلنګ** «Jeffrey sterling» او **ایدوارد سنود ین** «Edward Snowden» ، ) پروت دی د یو فرما ن په صادرولو سره هغوی عفوه کړي .

همدارنګه ښاغلی **دونالد ترومپ** با ید دامریکی د متحده ایالاتو دفدرال دولت په دننه کي د پنهان کاری داجراء تو د منع فرما ن صا درکړي اودي ته رسمي بڼه ورکړي اوهغه داچي موږ دامریکي خلک ددي هیواد واقعي فرمانرویان یاستواوددي سزاواریو

چي دخپل هیواد داسرارو اودرازونو دسا تنی اود حفاظت دپاره دخپل خلکو څخه لازمه اطلاعا تی مرستی تر لاسه کړو .
ښاغلی دونالد ترومپ په عملی بنی سره باید وښیی چي دکسب اوکار (Business) څخه دهغه مقصد اومرام با ید دامریکي دمتحده ایالاتو دمینځنی یا دمتوسطي طبقي ته د درنا وی په مفهوم وي اود امریکي خلکوته بی له کوم تبعیض په راکړی اورکړی اومهمو پیښو اوحالاتو کي آزاده او پوره ونده ورکړي چي خلکو په اطلاعاتی ارزیا بی اوپه اصلی او حیا تي بحثونو کي لکه د داګست د(۲۱) کال (۲۰۱۳) په سوریه کي دسارین دګاز په کارولو اویا په اکراین کي دما لیزیا د مسافروړونکي الوتکی سا نحه چي په ډزو سره دجولای په(۱۷) کال (۲۰۱۳) کی رانسکور شو ګډون وکړي .
د «اوباما» دولت داطلاعاتوپه انتخابی نسخو کي ددی رمز اوراز په اړین دامریکي دمتحده ایالاتو دعامه خلکو د ذهنیتونو په اړولو اودعمومی افکارو په انحراف اوبی لاری کولو باندي له هیڅ ډول هڅی اواند څخه ډډه نه کیدل یعنی داوباما اداره نه غوښتل چي دامریکي خلک له خني رمزونو اورازونو څخه معلومات ولری نو ددي پورتني یادوني څخه دانتیجه تر لاسه کیږي چي ښاغلی دونالد ترومپ باید دامریکي دمتحده ایالاتو دخلکو هغه دلاسه ورکړشوی اعتماد اوباورونه په ځنی خاصو او ځانګړي تکتیکونه اودخلکو سره په نژدیوالی سره له سره اعاده کړی یعنی دخلکو څخه هیڅ داسي کوم یو مهم اوحیا تي راز پټ ونه سا تي .
هغه یعنی ښاغلی ترومپ کولی شي چي د امریکی د متحده ایالاتو د بیهوده تبلیغا تی سازما نونو اودآژا نسونو اداری دفترونه وتړي اوپه دي توګه د بیلیونو ډالرو له ضایع کیدوڅخه مخنیوی وکړي اودهغه په ځای کي دامریکی دمتحده ایالاتودبین المللی توسعوی اداری ته مشروع صلاحیتونه ورکړی چي په نادارو او فقیرو هیوادونو کي مکتبونه د صحی اودپاکی اوبوڅا ګان وکیندي اوپه ځنی زیربنا یی تاسیسا توکی پوره مرستی تر سره کړي اود واقعی دموکراسي د پلی کولو د پاره دراپیدا شوی ستونزی او خندونه په پوره تعقل سره له مینځه لیری کړي .
نړی دنوی سړی جګړی له خطر څخه په خوندی ساتلو کي ښاغلی دونالد ترومپ کولای شي چي دروسی ددروند هستوی سلاح لرونکی هیواد سره خپل تول اختلافات اود ښمنی څخه لاس پرسرشي اودغه هیوادسره خپل منا سبا ت ښه اودوستانه کړي اوپه دی ډول دنړی بشریت ته دصرفه جویی او دښه سوله ایز فضا په رامینځته کیدوکي پوره مرستي ترسره کړي او دهمدي برخورد سره ښاغلي ترومپ کولای شي چي په میلیاردونه دالر کوم چي دامریکي دمتحده ایالاتو دنظامي مجتمع په جیب کي ولویږي هغه پیسي وسپماوی اوپه دي چلند سره هغه کولاي شی چي نه یوازی دامریکي خلکو ته بلکه دنړی تول بشریت ته نه هیریدونکی مرسته به تر سره کړی اودهغه کارنامی به دتاریخ په پا نو کي په زرین کربني به ولیکل شي . ----- په درنا وي